# وږمي ستا دزلفو



وږمي ستا د زلفو  یم  مست  کړي بی د بنګ
له کله چي یم نا سته  آرام ستا جانا ن په څنګ
دوه سترګی مي د ستا په لید و هیڅ نه  مړیږي
پا لنګ ته مي را خیژه شرنګوه دبنګړو شرنګ
ته ځما د ژوند سمون لپاره ښکلي سمون کا ر یی
په مینه سره وبخښه مي ژوند ته نوي رنګ
نخروسره هروخت«مل»زنګوه چي نازدی واخلي
راځه جا نا نه «مل» سره د سترګو په جنګ

------------------------- پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

جرمنی «2025-11-20»